د HPV واکسین

## د انسانانو پاپیلوماویروس (Human Papillomavirus, HPV) یو معمول ویروس دی چې د سرطان لامل ګرځي. د HPV واکسین له سرطان څخه په مخنیوي کې ستر رول لوبوي.

د HPV واکسین د انسانانو پاپیلوماویروس تر ټولو زیانکارو ډولونو له انتان څخه مخنیوی کوي. نوموړی واکسین خوندي او موثر دی او دواړو هلکانو او انجونو لپاره د 11 کلنۍ عمر په پیل کې توصیه کیږي خو کېدای شي په 9 کلنۍ کې هم تطبیق شي.

که چیرې نوموړی واکسین د ځوانۍ په لومړیو کې تطبیق شي لا ښه عمل کوي، د معافیت رامنځته کولو لپاره ښه فرصت برابروي، یعني د تنکیو ځوانانو د عمر له زیاتېدو سره سم غوره خوندیتوب رامنځته کوي.

## واکسینونه: په مخنیوي کې ستاسو تر ټولو غوره ستنه.

که تاسو د واکسینونو په اړه پوښتني لرئ، نو د خپل روغتیايي پاملرني چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

د واکسینونو او ناروغیو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ

- hhs.iowa.gov/public-health/immunization
- www.immunize.org
- www.cdc.gov/vaccines
- www.aap.org

IOWA Health and Human Services
Public Health

06/2024

# د انسانانو پاپیلوماویروس (HPV) واکسین

د لا ښه ژوند لپاره د واکسین له لارې معافیت ترلاسه کړئ!



IOWA Health and Human Services
Public Health

## HPV څه دی؟

HPV د جنسي اړیکو نیولو له لارې سرایت کوي، ان که چیرې اخته شخص د ناروغۍ هېڅ ډول نښې نښانې ونه‌لري. په ډېریو حالاتو کې، HPV انتان په خپله له‌منځه ځي او په نوموړي ویروس اخته کسان هېڅکله نه‌پوهېږي چې دغه ناروغي لري. مګر، کله چې HPV له منځه نه ځي، دا کولی شي د تناسلي غړو زخو او سرطان په څېر روغتیایي ستونزي رامنځته کړي. وروسته له‌دې چې یو شخص په HPV اخته شي، اکثراً کلونه وروسته سرطان رامنځته کیږي. HPV د لاندې ستونزو په شمول، کېدای شي هم په نارینه او هم په ښځینه وو کې د اندېښنې وړ ګڼ شمېر ناوړې پایلې ولري:

- د رحم سرطان
- د فرج سرطان
- مهبلي سرطان
- د مقعد سرطان
- د ذکر سرطان
- د ستوني سرطان او تناسلي غړو زخې

## د HPV واقعیتونه

- دمهال د متحده ایالاتو 79 میلیونه وګړي په HPV اخته دي
- هر کال 14 میلیونه وګړي په HPV اخته کیږي
- د اټکل له مخې 36,500 وګړي د HPV انتان له امله په سرطان اخته کیږي
- 90% هغه سرطانونه چې د HPV له امله رامنځته کیږي د HPV واکسیناسیون له‌لارې د مخنیوي وړ دي چې دغه شمېر په متحده ایالاتو کې هر کال 33,700 پېښو ته رسیږي
- د امریکا د سرطان ټولنه اټکل کوي چې په متحده ایالاتو کې به د مداخلي د رحم د سرطان 12,000 نوې پېښې رامنځته شي او هر کال به شاوخوا 4,000 میرمنې د دې ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړي

## د HPV وقایه

د HPV واکسین د هغو وګړو لپاره چې HPV باندې د اخته کېدو دمخه د دغه واکسین دوزونه بشپړ کړي وي، خورا روغتیایي ګټې لري. د HPV واکسین د هلکانو او انجونو دواړو لپاره د 12-11 کلونو په عمر کې سپارښت کیږي، مګر د 9 کلنۍ په عمر کې ورکول کیدی شي. د زړو ځوانانو او ځوانانو لپاره له لاسه ورکړل شوي واکسیناسیونو سپارښتنه کیږي.

## د HPV واکسین کوم شمېر دوزونه ته اړتیا لرو؟

د HPV واکسین لړی دوه یا درې دوزونه لري چې په 6 میاشتنۍ دوره کې تطبیق کیږي او کېدای شي د نورو واکسینونو تطبیق کولو سره په همهاله توګه تجویز شي. د بشپړ خوندیتوب رامنځ ته کولو په موخه، د HPV واکسین لړۍ بشپړول اړین ګڼل کیږي. نوموړی واکسین تر ځوانۍ دمخه کلونو کې کې غوره کار کوي او اوږدمهاله خوندیتوب چمتو کوي.

## ایا د HPV واکسین خوندي دی؟

په متحده ایالاتو کې واکسینونه خوندي او اغیزمن دي. واکسینونه جزئي جانبي عوارض لري، لکه د واکسین لګولو په ځای کې درد او یا خفیفه تبه. دغه جزئي نښې نښانې طبیعي دي او داسې باید وانګېرل شي چې بدن معافیت رامنځ ته کوي. د اندېښنې وړ غبرګونه ډېر نادر دي. د یوه واکسین ترلاسه کوونکی شخص باید د هغه له ګټو او خطرونو څخه باخبره وي. که هر ډول پوښتنې یا اندېښنې لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې خدماتو وړاندې کوونکي سره وغږېږئ.

## د معافیت لوړولو سوابق

د معافیت ازمایښتونه کېدای شي د ژوندانه په اوږدو کې اړین وي. د آیووا معافیتي معلوماتو د ثبت سیستم (Iowa's Immunization Registry Information System, IRIS) ته د واکسیناسیونونو ثبتولو په هکله خپل د روغتیایي پاملرنو خدماتو له وړاندې کوونکي سره وغږېږئ او د خپلو سوابقو فوتوکاپي ترلاسه کړئ.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې، د رحم سرطان په مېرمنو کې تر ټولو عام **څلورم سرطان دی** او اټکل کیږي هر کال د دغه سرطان 604,000 نوې پېښې رامنځ ته کیږي او **شاوخوا 342,000 مېرمنې خپل ژوند له‌لاسه ورکوي.**

